# الحشر

مدنی سورة دی ۲۴ آیتونه لری

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ١

د آسمانونو او ځمکې ټول موجودات او مخلوقات د الله تعالی ثنا او پاکی بیانوی( چې الله تعالی له هر عیب او نقص نه پاک) او برلاسی او د حکمت لرونکی ذات دی.

هُوَ ٱلَّذِيٓ أَخۡرَجَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ مِن دِيَٰرِهِمۡ لِأَوَّلِ ٱلۡحَشۡرِۚ
مَا ظَنَنتُمۡ أَن يَخۡرُجُواْۖ وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُم مَّانِعَتُهُمۡ حُصُونُهُم مِّنَ ٱللَّهِ
فَأَتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِنۡ حَيۡثُ لَمۡ يَحۡتَسِبُواْۖ وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمُ ٱلرُّعۡبَۚ يُخۡرِبُونَ
بُيُوتَهُم بِأَيۡدِيهِمۡ وَأَيۡدِي ٱلۡمُؤۡمِنِينَ فَٱعۡتَبِرُواْ يَٰٓأُوْلِي ٱلۡأَبۡصَٰرِ ٢

( الله تعالی) هغه ذات دی چې د اهل کتابو کافران( د بنو نضیر یهودیان یې د مؤمنانو) په لومړۍ حمله( او لښکر کشۍ) کې له خپلو کورونو څخه( خیبر ته) وشړل. تاسو( مؤمنانو) گومان نه کاوه چې یهودیان به( له مدینی نه) ووځی او هغوی هم مغرور وو( او انگیرله یې چې نظامی قوت)، مستحکم سنگرونه او پخې کلاگانی به یې د الله تعالی له عذابه وژغوری، خو د الله تعالی (عذاب) وربانديې له داسې خواو راچاپیر شو چې د دوی په خیال خاطر کې نه گرځیده، او په زړونو یې داسې رعب او ویره پریوته چې خپل کورونه یې پخپلو لاسو او د مؤمنانو په لاسونو ویجاړ کړل، نو ای د پوهې او بصیرت خاوندانو( له دغې پیښې نه باید) عبرت واخلئ( او وپوهیږئ چې کفر، شرک او بد عهدی او خیانت څومره بد او ناوړه انجام او عاقبت لری، او یوازی نظامی قوت د الله تعالی له عذابه د نجات وسیله نه ده، او باید مغرور وربانديې نشئ).

وَلَوۡلَآ أَن كَتَبَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمُ ٱلۡجَلَآءَ لَعَذَّبَهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَهُمۡ فِي
ٱلۡأٓخِرَةِ عَذَابُ ٱلنَّارِ ٣

**که د دوی د جلا وطنۍ او تبعید په باب د الله تعالی فرمان صادر شوی نه وی( او د عذاب په همدې تخفیف اکتفا نه وی شوی او دوی هم د سنګرونو د پریښودو په ځای جګړه خوښه کړی وی) نو په دنیا کې به یې داسې سخته سزا لیدلی وی( چې نوغی به یې کاملاً د هستۍ له صفحې ورک وی) او په آخرت کې هم ورته د اور عذاب لیکل شوی دی.**

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ شَآقُّواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥۖ وَمَن يُشَآقِّ ٱللَّهَ فَإِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ
ٱلۡعِقَابِ ٤

**دا ځکه چې دوی د الله تعالی او د هغه له رسول سره دښمنی وکړه او بیشکه چې د الله د دښمنانو لپاره سخت عذاب تیار شوی دی.**

مَا قَطَعۡتُم مِّن لِّينَةٍ أَوۡ تَرَكۡتُمُوهَا قَآئِمَةً عَلَىٰٓ أُصُولِهَا فَبِإِذۡنِ ٱللَّهِ
وَلِيُخۡزِيَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ٥

**دا د الله تعالی حکم و، چې تاسو د خرماو( هغه) ونې غوځولې( چې د جګړې په ډګر کې ولاړې وې او دښمن ترې د نظامی مورچلو په حیث کار اخست) او یا مو( د غیر نظامی ساحې) ونې پخپلو جرړو ولاړې پریښودې.( په دغه اذن سره الله تعالی غوښتل چې) دغه سرکښه باغیان او فاسقان خوار او ذلیل کړی.**

وَمَآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ مِنۡهُمۡ فَمَآ أَوۡجَفۡتُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ خَيۡلٖ وَلَا
رِكَابٖ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يُسَلِّطُ رُسُلَهُۥ عَلَىٰ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ
قَدِيرٞ ٦

**کوم مال او جایدادونه چې الله تعالی د غنیمت په توګه خپل پیغمبر ته ورکړې، تاسو یې د لاسته راوړلو لپاره، نه کوم آسونه او اوښان ځغلولی( او نه مو کوم زحمت او کړاو ګاللی و) بلکه الله تعالی خپل رسولان په هر چا چې وغواړی**

**برلاسی کوی یې، او الله تعالی د هر کار او اقدام په سرته رسولو کامل قدرت لری.**

مَّآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ مِنْ أَهْلِ ٱلْقُرَىٰ فَلِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِى ٱلْقُرْبَىٰ

وَٱلْيَتَـٰمَىٰ وَٱلْمَسَـٰكِينِ وَٱبْنِ ٱلسَّبِيلِ كَىْ لَا يَكُونَ دُولَةًۢ بَيْنَ ٱلْأَغْنِيَآءِ

مِنكُمْ ۚ وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمْ عَنْهُ فَٱنتَهُوا۟ ۚ وَٱتَّقُوا۟

ٱللَّهَ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ﴿٧﴾

**د دغو کلیو د اوسیدونکو کوم مالونه او ځمکې چې الله تعالی خپل رسول ته د فیء( بې جګړې غنیمت) په توګه ورکړی، د الله تعالی( د کعبې شریفې او نورو مقدسو مقاماتو مصارفو)، رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه د خپلو خپلوانو، یتیمانو، مسکینانو او مساپرو لپاره ځانګړې دی، ترڅو شتمنی یوازې ستاسو د ثروتمندانو ترمنځ لاس په لاس نشی، څه چې پیغمبر یې تاسو ته درکوی، واخلئ او له کومو شیانو چې مو منع کوی، ډډه وکړئ( د غنیمتونو تقسیم دی او که اوامر او نواهی په ټولو کې باید د پیغمبر امر محترم وګڼل شی) او له الله تعالی نه وویریږئ( او د رسول حکم یې ومنئ ځکه د هغه نافرمانی عیناً د الله تعالی نافرمانی ده) او الله تعالی سخت عذاب ورکوونکی دی.**

لِلْفُقَرَآءِ ٱلْمُهَـٰجِرِينَ ٱلَّذِينَ أُخْرِجُوا۟ مِن دِيَـٰرِهِمْ وَأَمْوَٰلِهِمْ يَبْتَغُونَ

فَضْلًا مِّنَ ٱللَّهِ وَرِضْوَٰنًا وَيَنصُرُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓ ۚ أُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ

ٱلصَّـٰدِقُونَ ﴿٨﴾

**( د غنیمتونو یوه برخه) هغو بې وزلو مهاجرینو ته ځانګړې شوې چې له خپلو کورونو او جایدادونو څخه ویستل شوی، د الله تعالی فضل او رضا غواړی او د هغه د رسول مرستې او خدمت ته ملا تړلی ولاړ او رښتینی مؤمنان دی.**

وَٱلَّذِينَ تَبَوَّءُو ٱلدَّارَ وَٱلۡإِيمَٰنَ مِن قَبۡلِهِمۡ يُحِبُّونَ مَنۡ هَاجَرَ إِلَيۡهِمۡ وَلَا
يَجِدُونَ فِي صُدُورِهِمۡ حَاجَةٗ مِّمَّآ أُوتُواْ وَيُؤۡثِرُونَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ
وَلَوۡ كَانَ بِهِمۡ خَصَاصَةٞۚ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفۡسِهِۦ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ
ٱلۡمُفۡلِحُونَ ٩

**(او هغه انصار هم پکې برخه لرى چې) د مهاجرينو له راتګ نه وړاندې يې ايمان راوړى، په دارالهجرت( مدينه منوره) کې اوسيږى. له مهاجرينو سره مينه کوى، او په زړونو کې يې د مهاجرينو مال ته د طمعې سترګې نه دى نيولى، او که څه هم پخپله اړ او بې وزله دى خو بيا هم له خپل ځانه زيات مهاجرينو ته ترجيح ورکوى. او ( په حقيقت کې) بريمن او فلاح موندونکى هماغه کسان دى چې له بخل او زړه تنګى نه ژغورل شوى دى.**

وَٱلَّذِينَ جَآءُو مِنۢ بَعۡدِهِمۡ يَقُولُونَ رَبَّنَا ٱغۡفِرۡ لَنَا
وَلِإِخۡوَٰنِنَا ٱلَّذِينَ سَبَقُونَا بِٱلۡإِيمَٰنِ وَلَا تَجۡعَلۡ فِي قُلُوبِنَا غِلّٗا
لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ رَبَّنَآ إِنَّكَ رَءُوفٞ رَّحِيمٌ ١٠

**او هغه کسان هم پکې برخمن دى چې( له انصارو او مهاجرينو نه) وروسته راغلل او وايي: اى زمونږ ربه! مونږ او زمونږ هغو ورونو ته چې له مونږ نه وړاندې يې ايمان راوړى ببښنه وکړه او زمونږ په زړونو کې د مؤمنانو لپاره خيانت او حسد مه پيدا کوه. اى ربه بيشکه چې ته مهربان او رحم کوونکى ذات يې.**

۞ أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ نَافَقُواْ يَقُولُونَ لِإِخۡوَٰنِهِمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡ
أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ لَئِنۡ أُخۡرِجۡتُمۡ لَنَخۡرُجَنَّ مَعَكُمۡ وَلَا نُطِيعُ فِيكُمۡ
أَحَدًا أَبَدٗا وَإِن قُوتِلۡتُمۡ لَنَنصُرَنَّكُمۡ وَٱللَّهُ يَشۡهَدُ إِنَّهُمۡ لَكَٰذِبُونَ ١١

**هغو منافقانو ته نه ګورې چې په اهل کتابو کې خپلو کافرانو ورونو ته وايى، که تاسو له خپلو کليو کورونو څخه وويستل شوئ، مونږ به هم هرومرو درسره وځو، او ستاسو په ضد به د هيچا حکم او فرمان و نه منو،**

**او که ستاسو په ضد جنګ پیل شی، مونږ به ستاسو ملاتړ وکړو، خو الله تعالی شاهدی ورکوی چې دغه کسان دروغجنان دی.**

لَئِنْ أُخْرِجُوا۟ لَا يَخْرُجُونَ مَعَهُمْ وَلَئِن قُوتِلُوا۟ لَا يَنصُرُونَهُمْ وَلَئِن
نَّصَرُوهُمْ لَيُوَلُّنَّ ٱلْأَدْبَـٰرَ ثُمَّ لَا يُنصَرُونَ ﴿١٢﴾

**( که د اهل کتابو کافران) وشړل شی نو منافقان ورسره نه وځی، که له هغوی سره جګړه پیل شی، دوی یې هیڅکله ملاتړ نه کوی، او که (بالفرض) مرستې ته یې راودانګی، نو ډیر زر به بیرته وتښتی، او بیا به( د اهل کتابو کافران) هیڅ ملاتړی او مرستندوی و نه مومی.**

لَأَنتُمْ أَشَدُّ رَهْبَةً فِى صُدُورِهِم مِّنَ ٱللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا
يَفْقَهُونَ ﴿١٣﴾

**( هو، منافقان به د اهل کتابو کافران د جګړی په تود ډګر کې یوازې پریږدی او وبه تښتی) ځکه دوی د خپلې ناپوهۍ له امله په زړونو کې له الله تعالی نه زیات ستاسو نه ویریږی.**

لَا يُقَـٰتِلُونَكُمْ جَمِيعًا إِلَّا فِى قُرًى مُّحَصَّنَةٍ أَوْ مِن وَرَآءِ جُدُرٍۭ ۚ
بَأْسُهُم بَيْنَهُمْ شَدِيدٌ ۚ تَحْسَبُهُمْ جَمِيعًا وَقُلُوبُهُمْ شَتَّىٰ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ
قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُونَ ﴿١٤﴾

**هغوی په ډله ایزه توګه ستاسو سره جګړه نه کوی، بلکه په هغو سیمو کې درسره جنګیږی چې مستحکم سنګرونه او قلا ګانې ولری. دوی پخپل منځ کې سره سخت دښمنان او غوښنه چاړه دی، ته به ګورې چې دوی ظاهراً یوه متحده ډله ده خو زړونه یې له یو بله شنه او بیزاره دی، ځکه دوی ټول له عقل او پوهې نه بې برخې دی.**

كَمَثَلِ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ قَرِيبٗاۖ ذَاقُواْ وَبَالَ أَمۡرِهِمۡ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ١٥

د( بنی نظیر د خاینو یهودیانو) مثال( د کافرو قریشو او بنی قینقاع د یهودو) په شان دی چې همدا څه موده وړاندې( د مدینې په شاوخوا کې) د خپلو ناوړو اعمالو په سزا ورسیدل او( په آخرت کې یې هم) دردوونکی عذاب په برخه دی.

كَمَثَلِ ٱلشَّيۡطَٰنِ إِذۡ قَالَ لِلۡإِنسَٰنِ ٱكۡفُرۡ فَلَمَّا كَفَرَ قَالَ إِنِّي بَرِيٓءٞ

مِّنكَ إِنِّيٓ أَخَافُ ٱللَّهَ رَبَّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٦

( د اهل کتابو له کافرانو سره د منافقانو درواغجنې وعدې) شیطان ته ورته دی چې انسان کفر ته وهڅوی او بیا ورته وایی چې زه درنه بیزاره یم او له الله تعالې نه ډارېږم چې د ټولو کائناتو او مخلوقاتو حقیقی واکمن دی.

فَكَانَ عَٰقِبَتَهُمَآ أَنَّهُمَا فِي ٱلنَّارِ خَٰلِدَيۡنِ فِيهَاۚ وَذَٰلِكَ جَزَٰٓؤُاْ

ٱلظَّٰلِمِينَ ١٧

عاقبت یې دا دی چې دواړه په دوزخ کې دی، هلته به تل تر تله وی او همدغه ده د ظالمانو سزا.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَلۡتَنظُرۡ نَفۡسٞ مَّا قَدَّمَتۡ لِغَدٖۖ

وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ١٨

ای د ایمان خاوندانو! د الله تعالی له( عذابه) وویرېږئ او په د قت وګورئ چې د سبا ورځې ( قیامت) لپاره مو( د عباداتو او طاعاتو) څه ذخیره استولې ده. له الله تعالی نه وویرېږئ( او د تقوا او پرهیزګارئ لار غوره کړئ) ځکه الله تعالی ستاسو په ټولو کړنو ډېر ښه خبر دی.

وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ نَسُواْ ٱللَّهَ فَأَنسَىٰهُمۡ أَنفُسَهُمۡۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ

ٱلۡفَٰسِقُونَ ١٩

او د هغو خلکو په ډل مه ځئ، چې الله تعالی یې هیر کړی او الله تعالی هم( دوی د غفلت په داسې غضب اخته کړی چې د خپل راتلونکی انجام او عاقبت هیڅ غم او فکر ورسره نشته او) په ګناهونو او سرکشیو کې ډوب دی.

لَا يَسْتَوِيٓ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ وَأَصْحَٰبُ ٱلْجَنَّةِۚ أَصْحَٰبُ ٱلْجَنَّةِ هُمُ ٱلْفَآئِزُونَ ﴿٢٠﴾

دوزخیان او جنتیان سره یو شان نه دی، جنتیان ربښتیا هم فلاح موندونکی او بریمن دی.

لَوْ أَنزَلْنَا هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ عَلَىٰ جَبَلٍ لَّرَأَيْتَهُۥ خَٰشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ ٱللَّهِۚ وَتِلْكَ ٱلْأَمْثَٰلُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٢١﴾

که دا قرآن مو په کوم غره نازل کړی وی ( او هغه یې په مضامینو او مفاهیمو پوهیدی نو د خپل سخت والی او لویې سره سره به) د الله تعالی( د عذاب) له ویرې تابع او ذره ذره شوی وی( خو د کافرانو زړونه له تیږو نه هم سخت د ی چې قرآن اوری او ایمان نه راوړی) او مونږ دا مثالونه خلکو ته وړاندې کوو ترڅو( په حقایقو) ژور فکر وکړی.

هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِي لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ عَٰلِمُ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِۖ هُوَ ٱلرَّحْمَٰنُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٢٢﴾

الله تعالی هغه ذات دی چې له هغه نه غیر بل خدای نشته، په پټو اسرارو او ښکارو ښه پوه او خبر، او مهربان او ښښونکی ذات دی.

هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِي لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡمَلِكُ ٱلۡقُدُّوسُ ٱلسَّلَٰمُ ٱلۡمُؤۡمِنُ
ٱلۡمُهَيۡمِنُ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡجَبَّارُ ٱلۡمُتَكَبِّرُۚ سُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا
يُشۡرِكُونَ ﴿٢٣﴾

(الله تعالی) هغه ذات دی چې په مقابل کې يې هيڅ معبود نشته، واکمن دی، سپيڅلی،( له هر عيب او نقص نه) پاک او سالم، امنيت ښونکی( او پخپلو وعدو ولاړ او نافذوونکی)، ( د خپلو مخلوقاتو په چارو او اعمالو ) څارونکی او شاهد، ( پخپلو ټولو اقداماتو) برلاسی، جوړوونکی( جبرانوونکی)، د عظمت او دبدبې خاوند او د شرک له ټولو توصيفاتو نه( چې مشرکان يې ورته منسوبوی) پاک او منزه دی.

هُوَ ٱللَّهُ ٱلۡخَٰلِقُ ٱلۡبَارِئُ ٱلۡمُصَوِّرُۖ لَهُ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ يُسَبِّحُ لَهُۥ مَا فِي
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿٢٤﴾

(الله تعالی) د ټولو مخلوقاتو حقيقی خالق، مؤجد او مخترع( له نشت نه هست ته راوستونکی)، شکل او صورت جوړوونکی او د ټولو پاکو نومونو لرونکی ذات دی. د آسمانونو او ځمکې ټول مخلوقات او موجودات د هغه ثنا او تسبيح وايې او يوازې همدی( پخپلو ټولو چارو او اقداماتو) برلاسی او حکيم ذات دی.

« تمت سورة الحشر بفضل الله و رحمته»

=====================